# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com


| | |
|---|---|
| زن پیشتاز | Vanguard Woman |


ژباړه: فرهاد وياړ


۱۷ اکتوبر ۲۰۱۵

## د ښځو سور پوځ

**(۶)**



جونګ هوا، هون ليان ته وويل:«خورئ، سرتيری هون چانګ چنګ هم پر مونږ نيوکه کوي او هم مونږ ته جزا راکوي، خو دا ښه چلند دی د همدې لپاره مونږ د هغې خبرې په خپله خوښه منو.» هون ليان وويل:« دا سمه خبره ده، ښيي مونږ له هون چانګ چنګ غوندې سرتيرو څخه زده کړو.»



د بلې ورځ په سهار، جونګ هوا او هون لیان په کوټه کې د وزن جګولو تمرین کاوه چې سرتیري هغوی ته ډوډۍ راوړه او وې ویل:«نن شپه مونږ پر نان باتیان برید کوو.» جونګ هوا په خوشالۍ وپوښتل:«رښتیا؟»



جونګ هوا بې له دې چې ډوډۍ وخوري، د دې لپاره چې په برید کې ګډون وکړي د قوماندان سره د خبرو لپاره له کوټې ووتله. خو همدا چې د دروازې درشل ته ورسیده، له ځان سره یې فکر وکړ چې آیا ما ته یې ویل شوي نه دي چې د خپلې تیروتنې په اړه فکر وکړم.



کله چې هغه راستانه شوه، هون لیان ورته د تسلي تر څنګ وویل:«لاړه شه او خپله غوښتنه وړاندي کړه.» جونګ هوا له لږ فکر وروسته په زړورتیا وویل:«نه! ښیي اوس زه په خپلې تیروتنې فکر وکړم. زه باید نظم رعایت کړم.» هون لیان ورته وویل:«ښه، نو داسي چې ده، زه په خپله قوماندان ته ورځم او ستا په اړه ورته وایم او معذرت غواړم.»



هون چانګ چنګ له نورو سره د جګړې د پلان په هکله خبرې اترې کولې. هون ليان د جونګ هوا غوښتنه وړاندې کړه. هغوې وپوښتل چې ولې په خپله رانغله. هون ليان وويل:«ځکه وې ويل  چې هغه په خپله بايد نظم په پام کې ونيسي.» هون چانګ چنګ مسکې شو او وې ويل:«ښه نو، ورته ته ووايه چې امر ته دې منتظره وي.»



د هون ليان له تللو وروسته، هون چانګ چنګ وويل:«د مشترکې مشورې لپاره، نان باتيان هرومرو ما ته منتظر دی. که زه بيا د چينی سوداګر په نامه لاړ شم، هغه نيولی هم شم او دښمن به هم له خپل رئيس څخه لاس په سر شي.؟»
ټولو ورسره هوکړه وکړه.



هون چانګ چنګ په بهر کې د چیني سوداګر په نامه، د جونګ هوا او هون لیان او یو زیات شمیر سرتیرو سره بیا د یلین کلي ته ورسیده.



نان باتیان په خپله د هغوئ هرکلي ته راوتلی و، د نان باتیان په لیدلو سره هون چانګ چنګ له ځان سره وویل:«خوشاله ووسئ، نن شپه به دربانديې بد شانې قیامت تیر شي.»



میلمستون ته د راتګ وروسته، هون چانګ چنګ، هون لیان ته امر وکړ چې ډالی وړاندې کړي او نان باتیان ته یې وویل:«دا زمونږ د هیواد معمولی شیان دي.» نان باتیان کله چې ولیدل چې صحرایي بوټې او د نقرې سکې دي، په ډیرې خوشالی یې وویل:«دا ډیرې قیمتي ډالی دي.»



د مننې لپاره نان باتیان له خپل ځای راولاړ شو او په زګیروي یې پیل وکړ. هون چانګ چنګ قصدي ترې پوښتنه وکړه:«ولې، روغتیایی حالت مو ښه نه دی؟» نان باتیان خپل غاښونه سره ومښل او وې ویل:« کمونیستانو په ډېرو سره زما مټ ټپی کړی دی. د دې مردکي غچ به اخلم!»



نان باتیان زیاته کړه:« هون وروره! د هغه موضوع په هکله چې مو تیر ځل خبرې کړې وې...» هون چانګ چنګ بی له ځنډه وویل:«ما تصمیم نیولی چې د **هائی نان** د ساتنې لپاره د زړه له کومې مرسته وکړم.»



نان باتیان د دې خبرې په اوریدو سره له خوشالۍ لاس او پښې ورکې کړی، خو مشاور یې شکمن و او کله چې یوازې شول، نان باتیان ته یې وویل:«د کمونیست ګوند له سیمو څخه په دې اسانۍ د هغه تګ راتګ لږ عجیب غوندې ښکاري. زما په اند د دې مغرور سړي سره کار کول ستونزمن ښکاري.»



نان باتیان د دې خبرې په اوریدو سره په اوچت آواز وخندلې او وې وویل:«که  هغه یو احمق دی نو زه د هغې سره کار وکړم؟  سمه ده خې د زیاتې مشورې لپاره هوانګ چین شان را وغواړه!» د تللو په وخت کې مشاور هغه ته وویل:« زما مالکه احتیاط له لاسه مه ورکوئ.»



هغه واقعاً د خپل مالک وفاداره مزدور و، د شپې ډوډۍ وروسته هغه په پټه د هون چانګ چنګ له کوټې راووتو چې معلومه کړي چې څه روان دي، خو د هغې دا حرکت هون لیان او جونګ هوا ولیدو.



جونګ هوا چې د دې جاسوس حرکتونه لیدلي وو، هون چانګ چنګ ته یې وویل. هون چانګ چنګ چې په خپله هم شکمن شوی و، په قصدي ډول یې په اوچت اواز وویل:«چترۍ نیونکی، زه د رئیس نان باتیان سره یو څه مشوره لرم نو د همدې لپاره یو څو ورځې نور هم دلته پاتې کیږم، سبا  ته کینتن ته لاړ شه او مور مې دلته د چکر وهلو لپاره راوله.»